مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۴/۰۱/۱۷

سرکاره!

موږ ځمکه غواړو؛ ستوري نه اسمان غواړو سرکاره!
دا وږي مو ماړه په دسترخوان غواړو سرکاره!

چې خپل هېواد جنت کړو موږ به خپل کړي جنتونه
په خاوره د سجدې نه جوړ ایمان غواړو سرکاره!

چې جوړه قوشتېپه شي د قام نیم وږي ماړه شي
دانیم د کونړ بند باندې ودان غواړو سرکاره!

خوږ زنګ دی د مکتب لکه اذان د جوماتونو
دا ښکلی کړنګ جاري لکه اذان غواړو سرکاره

باور ملنګ له چا نه د تاجونو تمه نه کړي
راټول د خپل یتیم ځیرې ګرېوان غواړو سرکاره!

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ